# لاَ يَرْمِي رَجُلٌ رَجُلًا بِالفُسُوقِ، وَلاَ يَرْمِيهِ بِالكُفْرِ، إِلَّا ارْتَدَّتْ عَلَيْهِ، إِنْ لَمْ يَكُنْ صَاحِبُهُ كَذَلِكَ». "هيڅ څوک پر بل د بدکار او کفر تور نه لګوي، په داسې حال کې چې هسې نه وي مګر دا چې وینا یې بېرته پرې ورګرځي

له ابو ذر رضي الله عنه څخه روایت دی هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې ویېل یې:
«لاَ يَرْمِي رَجُلٌ رَجُلًا بِالفُسُوقِ، وَلاَ يَرْمِيهِ بِالكُفْرِ، إِلَّا ارْتَدَّتْ عَلَيْهِ، إِنْ لَمْ يَكُنْ صَاحِبُهُ كَذَلِكَ». "هيڅ څوک پر بل د بدکار او کفر تور نه لګوي، په داسې حال کې چې هسې نه وي مګر دا چې وینا یې بېرته پرې ورګرځي".
[(صحیح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه چاته خبرداری ورکوي چې بل ته فاسق او یا کافر وایي، ځکه که چېرته پکې هغه څه نه و چې ده ویلي، نو دی په خپله د همدې صفت مستحق دی او وینا یې پرې بېرته ورګرځي، خو که چېرته پکې فسق او کفر و نو بیا یې پرې وینا نه ورګرځي؛ ځکه چې په خپله وینا کې ریښتینی دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/8883

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee